# روژه

## د رحمت، برکت او مغفرت میاشت

لیکنه :
سید محبوب شاه ساجد

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## پېژندنه :

---

❖ د کتاب نوم : روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت

❖ مؤلف : مولوي سيد محبوب شاه (ساجد)

❖ خپرندوی : صداقت خپرندویه ټولنه/کندهار

❖ ډیزاین : محمد عمر

❖ کمپوزر : اسد الله ارماني

❖ چاپکال : ۱۳۹۰ش – ۱۴۳۲ق

❖ چاپشمېر : ۲۰۰۰ ټوکه

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت

ټوله ستاینه هغه پروردګار لره ده، چې د بشریت د نېکمرغۍ لپاره يې د کال په اوږدو کې پر مسلمانانو يوه داسې مبارکه میاشت لورولې ده چې هغه په مادي او روحي لحاظ د ګټو او اجرونو او په جمسي او رواني لحاظ له الهي حکمتونو څخه ډکه ده.

هغه د بډای او مسکین، پادشاه او ګدا لپاره د مساوات میاشت ده، هغه د پرش ورځنی اسلامي کورس دی. چې د روغتیاپالني تر څنګ د اجتماعي تعاون، هم آهنګۍ او همدردۍ عملي درسونه ښيي، هغه د نوافلو، عباداتو، صیام او قیام او عالي اخلاقي روزني تریتګاه ده او درود او سلام دې وي د الله تعالی پر هغه غوره او ګران محبوب رحمة اللعالمين ﷺ چا چې تر دغه میاشت مخکې به يې لا متې ور ونغښتې او د عبادتونو تر څنګ به يې د سخا دسترخوان د غریبو او بېوزلو انسانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشحاله کولو لپاره وغوړوی او د سخا درجه به یې د نور کال په پرتله په همدغه میاشت کې نهایي نقطې ته لوړېدله، او د هغه پر ټولو ملګرو او پلویانو چا چې د دین د خپرولو په لاره کې یې له هیڅ ډول قربانۍ څخه سر نه دی غړولی او پر هغه چا چې د قیامت تر ورځې د هغوی پر تګلاره روان وي او پر موږ ګنهګارانو چې د رسول الله ﷺ غوره امت ته مو نسبت کېږي. آمین

اما بعد !

د روژې مبارکه میاشت د عادت سره سمه هر کال د مسلمانانو مېلمنه کېږي، موږ د سر په سترګو وینو، چې ډېر ورونه د دې میاشتې له راتګ څخه مخکې له دنیا څخه رخصت سي، د اعمالو سلسله یې قطع سي او قسمت یې نه وي چې د ژوندیو انسانانو سره یو ځای د همدغه مېلمنې میاشتې هر کلی وکړي او د هغې له فیوضاتو څخه ګټه واخلي، خو نېکمرغه هغه څوک دی، چې دا میاشت ورباندي راغله او د هغې د هر کلي لپاره یې پشپړه تیاری نیولی وي، مخکې یې په فلسفه ځان پوهولی وي او په مطلوب شکل دا مبارکه مېلمنه میاشت وپالي او له برکتونو او له هري لحظې څخه یې ډېره ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو مسلمانانو !

مخکې تر دې چې دا مبارکه میاشت را ورسیږي، راځئ چې په بشپړه امانتدارۍ او رښتینولۍ له ځانه سره ځیني پوښتني مطرح کړو، تر څو دا میاشت بې له خالصې توبې، طاعت او عبادت څخه زموږ د لاسه ولاړه نه سي او د هغې قیمتي شیبې وړیا ضایع نه سي. خدای ﷻ خبر چې بل کال به موږ او دغه د برکت، مغفرت (بخښني) او رحمت میاشت سره مخ سو او که نه.

آیا موږ په همدغه مبارکه میاشت کې د توبې ایستلو عزم کړی دی؟ آیا له ګناهونو او منکراتو څخه مو د لاس د اخیستلو او د کایناتو د لوی پروردګار سره د نیکو اعمالو د سرته رسولو او د یوې نوې صفحې د پرانیستلو اراده کړې ده؟

آیا موږ د دې مبارکې میاشتې د ورځني عبادت لپاره یو منظم تقسیم اوقات برابر کړی دی، چې د هغه له مخې د همدغه مبارک موسم د شپو او ورځو هر کلی وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موږ ربښتیا هم پر تېر وخت پښېمانه یو ، چي هسي مو له لاسه ووت او په راتلونکي کي د ګناهونو او شرعي مخالفتونو د پرېښودلو هوډ مو کړی وي نو ربښتیا هم چي موږ د ژوندانه په ارزښت پوه سوي یو او نور به خپله آینده رغوو ، په همدې شکل به موږ له معنوي سکون او د الله تعالی ﷻ له نعمتونو څخه لذت واخلو او که مو همدا موسم هم تش د تېر په شان له لاسه ووت نو په دې باید وپوهېږو ، چي خپل عمر مو ضایع کړ او نېکمرغي مو په برخه نه سوه.

امام ابن الجوزي رحمة الله علیه فرمایي:

انسان ته په کار د ه، چي د خپل وخت عزت او قدر وپېژني او یوه شېبه هم د الله تعالی د رضاء د لاس ته راوړلو څخه پرته په بل څه کي ضایع نه کړي او یو تر بل غوره او نېک کارونه او نیکي خبري ځان ته خپلي کړي او تل یې د خیر د کارونو داسي پوخ نیت کړی وي چي کله هم پکښې سستي او ستوماني محسوس نه کړي.

له عامر بن قیس رحمة الله علیه څخه نقل سوی دی، چي یو چا ورته وویل: خبري راسره وکړه، هغه په جواب کي ورته وویل: د یو څو شېبو لپاره لمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیسه زه به خبري د رسره وکړم.

رښتیا هم چي عمر ډېر په چټکي روان دی.

هغه څوک چي دنیوي کاروبار او تجارت کوي یوه شېبه هم د یوه ډېر نژدې ملګري لپاره وخت نه ضایع کوي او که کله هم د ګټې یو چانس ورته په لاس ورسي نو پالتویې له لاسه نه ورکوي او که یې له لاسه ووزي ډېر ورباندي خواشیني او غمجن وي. موږ داسي اخروي موسمونه چي په هغه کي د الله تعالی سره تجارت زموږ لپاره زیاتي ګټې لري ولي په پام کي نه نیسو، تر څو د نیکو عملونو او عبادتونو لورته ګړندي سو او هغه ستري ګټې چي د الله تعالی له لوري ثوابونه او اخروي بې شمېره نعمتونه او دنیوي نېکمرغۍ دي لاس ته راوړو.

دغه د روژې میاشت هغه لوی فرصت دی، چي نېکان ورته تیاری نیسي او پرهېزګاران ډېر ورته خوشحاله وي او ویښ مسلمانان یې په ډېر مینه انتظار باسي. دا میاشت د ګناهونو د بخښلو، د جنت د ګټلو او د جهنم له عذابونو څخه د نجات موسم دی، خو د هغه چا لپاره چي زړه یې روغ، اندامونه یې په شرعي موازینو برابر وي او د همدغي مبارکي میاشتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځي په خوب کولو او شپه يې په قطعه بازی، د تلويزوني فلمونو او ډرامو په کتلو او په بې ځايه محفلونو تيري کړي نو د روژې نيولو له اجرا و ثواب څخه بېشکه بې برخي سو.

دا د ګوتو په شمېر يو څو شپې او ورځي دي، چي کله مياشت رادبره سي وربانـدي پوه نـه سو، چي څرنګه ووتله نو راځئ چي له دې اخروي تجارتي موسم سره په هغه شکل تعامل وکړو لکه د دنيا د تجارت له موسمونو سره چي يې کوو، که رښتيا مو په دې يقين وي چي يوه ورځ له دې فاني نړی څخه تلونکي يو او هلته مو د نيکو اعمالو سرمايې ته اړتيا لرو.

رسول الله ﷺ فرمايي:

عن ابي هريره ﵁ قال: قال رسول الله ﷺ رغم انف رجل ذکرت عنده فلم يصل علی ورغم انف رجل دخل عليه رمضان ثم انسلخ قبل ان يغفر له ورغم رجل ادرک عنده ابواه الکبر فلم يدخلاه الجنة. (رواه الترمذي)

ترجمه:

له ابوهريره ﵁ څخه روايت دی، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي پزه په خاورو سپېره سي، چي زه يې په مخ کي ياد کړل سم او پر ما درود ونه وايي او د هغه چا دي پزه په خاورو سپېره سي چي د روژې مياشت ورته راغله او ورځخه ووتله مخکي له دې چي د ده ګناهونه پکښي وبخښل سي او د هغه چا دي پزه په خاورو سپېره سي چي په ژوند کي يې مور او پلار سپين ږيري سي او دی جنت ته نه د ننه باسي (يعني د هغوی خدمت ونه کړي).

# د روژې فضايل

د رمضان د مياشتي روژه نيول د هجرت په دوهم کال کي د شعبان د مياشتي په دريمه د دوشنبې په ورځ فرض سوه. د هغې فرضيت په قرآنکريم او نبوي احاديثو او د امت په اجماع سره ثابت سوی دی، په قصد سره يې خوړل لوی جرم، کبيره ګناه او ډېر خطرناک کار دی او منکر يې بيله شکه کافر دی، فرضيت يې په لاندي مبارک آيت سره ثابت دی، الله تعالی ﷻ فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ

مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ (سورة البقره-١٨٣آيت)

ترجمه: اې هغو کسانو، چي ايمان مو راوړی دی پر تاسو باندي روژه نيول فرض ګرځول سوې ده، لکه له تاسو څخه مخکي (پر امتونو، قومونو او پيغمبرانو باندي چي فرض کړل سوې وه) د دې لپاره چي ځانونه د ګناهونو څخه وساتئ او د تقوا خاوندان سئ.

په بل مبارک آيت کي الله تعالی جل جلاله فرمايي:

شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَٰتٖ مِّنَ

ٱلۡهُدَىٰ وَٱلۡفُرۡقَانِۚ فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ ٱلشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُۖ (سورة البقره-

١٨٥آيت)

ترجمه: د روژې مياشت هغه مياشت ده چي په هغې کي قرآنکريم نازل سوی دی، چي هغه (قرآنکريم) د خلکو لپاره هدايت، لارښوونه او ښکاره



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليلونه دي چې حق او باطل سره بېلوي، نو کوم مکلف مسلمان چې دا مياشت وليدله نو ضروري دي د هغې مياشتې روژه ونيسي.

رسول الله ﷺ فرمايي:

عن بن عمر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: بني الاسلام على خمس شهادة ان لا اله الا الله و ان محمد رسول الله و اقام الصلاة و ايتاء الزكاة و الحج و صوم. (صحيح البخاري)

ترجمه: د عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

د اسلام دين پر پنځو شيانو جوړ دی.

۱. دا شاهدي ورکول، چې د الله تعالى ﷻ نه پرته بل څوک د عبادت وړ او لايق نشته، دا شاهدي ورکول چې محمد ﷺ د الله تعالى ﷻ رسول او پيغمبر دی.

۲. او د لمانځه درول (کول).

۳. او د زکات ورکول.

۴. د حج اداء کول.

۵. د رمضان د مياشتې روژه نيول.



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ فرمايي:

عن ابي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ من صام رمضان ايماناً و احتساباً غفر له ماتقدم من ذنبه. (صحيح البخاري)

ترجمه: د ابي هريرة ﷺ څخه روايت دى، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي له الله تعالى ﷻ د اجر او ثواب د غوښتلو په نيت د رمضان د مياشتي روژې د ايمان او عقيدې په رڼا کي ونيولې، نو د هغه تير ګناهونه به ټول وروبخښل سي.

په بل حديث شريف کي راغلي دي:

عن ابي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ قال: اذا دخل شهر رمضان فتحت ابواب السماء و غلقت ابواب جهنم و سلسلت الشياطين. (صحيح البخاري)

ترجمه: حضرت ابوهريرة ﷺ د پيغمبر ﷺ څخه روايت کوي چي هغه مبارک فرمايلي دي، چي: کله د رمضان مياشت داخله سي د آسمان دروازې خلاصي سي او د جهنم دروازې وتړل سي او شيطانان په ځنځيرونو وتړل سي.

د حضرت سهل ﷺ څخه روايت دى، چي رسول الله ﷺ وفرمايل، چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت کي يوه دروازه ده چي ريان نوميږي، روژه لرونکي به پر هماغه دروازه جنت ته ننوزي او بل به هيڅوک له هغې دروازې څخه نه ننوزي، اعلان به وسي، چي چيرته دي روژه لرونکي؟ هغوی به (جنت ته) ولاړ سي او بل به هيڅوک نه ننوزي چي کله هغوی (روژه لرونکي) دننه سي وبه تړله سي او په هغه دروازه به بيا هيڅوک جنت ته دننه ولاړ نه سي (يعني دا دروازه د روژاتيانو لپاره ځانګړې سوې ده. (رواه البخاري)

همدا ډول په بل مبارک حديث کي راغلي دي:

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دی، هغه وايي چي کله د روژې مياشت راورسېدله نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

تاسي ته يو داسي مبارکه مياشت راغله، چي د هغې د روژو نيول پر تاسي فرض ګرځول سوې ده. په هغې کي د جنتونو دروازې خلاصيږي او د دوږخ دروازې تړل کيږي او سرکښه شيطانان قيدکړل کيږي په همدغه مياشت کي يوه شپه ده چي تر زرو مياشتو غوره ده څوک چي يې له خير څخه محروم سو نو هغه له هري ګټي څخه بې برخي سو. (سنن النسائي)

په بل حديث کي فرمايي: د ابو هريرة ﷜ څخه روايت سوی دی، چي



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاپروردګار وايي: د هري نېکۍ بدله له لسو چندو څخه نېولې تر اوو سوو پوري کيږي، الله تعالی فرمايي چي روژه زما لپاره نيول سوې ده او زه به بنده ته د هغې بدله او ثواب ورکوم او روژه د اور څخه ډال دی او د روژاتي د خولې بوی الله تعالی ته د مشکو تر خوشبويي زيات خوشبويه دی، نو که يو ناپوه په جهالت سره په روژه لرونکي تېری کوي نو ورته دي وايي چي زما روژه ده. (رواه ترمذي)

په بل حديث کي فرمايي: د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي (په روژه کي) درواغ ويل او د ګناه کارونه نه پرېښودل نو الله تعالی چا ته ضرورت نه لري. چي خوراک او چښاک ورته پرېږدي. (رواه البخاري)

# د روژه نيونکي لپاره دوې خوشحالۍ

امام بخاري په خپل کتاب د سند سره ذکر کړي دي: (للصائم فرحتان يفرحهما : اذا افطر فرح و اذا لقي ربه فرح بصومه).



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: د روژه نيوونکي لپاره دوې خوشحالۍ دي، چي هغه خوشحاله کوي: کله چي ماښام روژه ماته کړي نو خوشحاله سي او کله چي د الله تعالی سره مخ سي نو بيا په خپله روژه خوشحاله سي.

## د روژه نيوونکي دعا نه رديږي، يعني قبليږي

د حضرت ابوهريرة ﵁ څخه روايت دی چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: د درو کسانو دعا نه رديږي: عادل پاچا، روژه نيوونکی تر څو چي روژه ماته کړي او مظلوم. (سنن ابن ماجه)

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قدر د شپې فضیلت

د قدر شپه د روژې په میاشت کې تر ټولو غوره او بهترینه شپه ده، الله تعالی ﷻ په قرآنکریم کې فرمایي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ ۝٢ لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ ۝٣ (سورة القدر–۱، ۲، ۳ آیتونه)

ترجمه: موږ نازل کړی دی دغه (ټول قرآن) د قدر په شپه او څه شي پوه کړې ته (اې محمده) چې د قدر شپه څه ده (د عزت او شرافت له پلوه؟) د قدر شپه غوره ده له زرو میاشتو څخه (هغه زر میاشتې چې دغه د قدر شپه پکښې نه وي).

سبحان الله! ګرانو مسلمانانو تاسي زرو میاشتو ته حساب وکړئ چې څو کاله کیږي، یعني په دغه شپه کې طاعت او عبادت د زرو میاشتو تر عبادت هم زیات دی.

رسول الله ﷺ فرمایي: هغه څوک چې د ایمان او اجر له امله د قدر شپه



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینبه کړي (عبادت پکښې وکړي) مخکني ګناهونه به یې ورته وبخښل سي... د حدیث نوره برخه مخکي ترجمه سوې ده. (صحیح البخاري)

# د قدر د شپې مخصوصه دعا

اللهم انک عفو تحب العفو فاعف عنا !

د روژې فضایل دومره ډېر دي که ټول حدیثونه یې راټول کړل سي یو لوی کتاب ځني جوړیږي. دلته همدومره کفایت کوي په نورو کتابونو کي یې کتلای سئ.

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روژې په قصداً خوړونکی لوی بدبخت دئ

د حضرت ابو هریره ﷺ څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
کوم سړی چې د شرعي عذر نه پرته د رمضان المبارک یوه روژه وخوري، نو که د روژې د میاشتې پرته ټول عمر روژه ونیسي د هغې یوې روژې ځای نه نیسي. (رواه احمد، ترمذي و ابوداود)
ګرانو مسلمانانو وروڼو او خویندو!
په دې کې څه شک نسته چې رمضان مبارکه میاشت د اجرونو او ثوابونو میاشت ده. د الله تعالی نېک بندګان او د خیر غوښتونکي انسانان دغه میاشت یو طلایي فرصت ګڼي تر څو په دغه موسم کې د خپلو نېکیو په ذخیره کې زیاتوالی راولي ځکه خو هغوی د اجر او ثواب په کارونو کې دومره زیات مشغول وي چې هیڅ یوه دنیوي کار ته یې ورپام هم نه وي، هغوی نه یوازې دا چې دورځې لخوا روژه نیسي او اپه انساني ټولنه کې د خیر او ثواب پروګرامونه پر مخ بیایي بلکې شپه یې هم ټوله په نفلونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیام او تلاوتونو او د خیر د کارونو د کولو لپاره په پلان ګذاري تېرېږي، خپله هم دیني علم حاصلوي نورو ته یې هم ورښیي، په دعوت او مجاهده بوخت وي، خلک په نېکیو امر کوي او د بدو څخه یې منعه کوي او د ستومانۍ احساس هم نه کوي، په مقابل لوري کي موږ داسي کسان هم وینو چي روژه خو نیسي او مسلمانان دي خو د زیاتي خواشینۍ ځای دی چي په همدغه مبارکه میاشت کي یې د هغې له برکتونو څخه هیڅ ګټه نه وي اخیستې. معمول یې هم داسي وي چي د ورځي په معامله کي درواغ، قسم، په خبرو کي غیبت، ښکنځل، د مسلمان خطا ایستل، غبن فحش او شپه یې په کرمبوټ، شطرنج، قطعه بازۍ، فلمونو او ډرامو په کتلو او اوربدلو تېره سي، پیشلمی کړی یا نه کړی د سهار لمونځ کړی یا نه کړی په روژه مات دومره ډوډۍ وخوري چي بیا د ماخستن لمونځ او تراویح هم ورځني پاته وي.

دغه وروڼه او خویندي باید وپوهوو ځکه دا زموږ او ستاسي دیني مسئولیت دی او د الله تعالی په دربار کي د ځان او ټولو مسلمانانو لپاره د هدایت دعا وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن چي د مسلمانانو ډېر بد حال دی او خصوصاً پر موږ افغانانو چي دا
دېرش کاله د الله تعالی مختلف عذابونه نازل دي او ورځي تر بلي په مختلفو
مصيبتونو کي اخته کيږو د دې عذابو تر ټولو لوی سبب زموږ او ستاسي
ګناهونه دي موږ او تاسي په شعوري او غير شعوري توګه په مختلفو
ګناهونو اخته يو، تر څو چي د الله تعالی په دربار کي په اخلاص توبه ونه
کاږو تر څو چي د مسلمانانو په حيث خپل ديني او اسلامي مسئوليتونه ونه
پيژنو او ورته متوجه نه سو نو خدای مه کړه دا عذابونه به نور هم زيات سي،
نو راځئ چي په ګډه ټول هيوادوال د دغه الهي فرصت نه په استفادې سره په
دغه مبارکه مياشت کي خپل پروردګار ته رجوع وکړو او په ټوليزه توګه په
ډېر اخلاص، صداقت، رښتينې او نصوحاً توبه وکاږو، الله دي موږ او تاسي
ته توفيق راکړي. آمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روژې حکمتونه

د رمضان د مبارکي میاشتي روژې په اسلامي شریعت کي له یوې خوا د الله تعالی لخوا فرض کړل سوی عبادت او د اسلام دریم رکن ګڼل کیږي خو له انساني پلوه هم زیات حکمتونه او اضافي ګټي لري، چي په لنډ ډول اشاره ورته کیږي:

۱. د روژې روحي ګټه:

روژه د انسان روح تصفیه کوي او هغه ته صبر، قوت او استقامت وربخښي، د روژې د رواوالي خورا ارزښتناک حکمت د نفس او روح تزکیه ده، د روژې په واسطه کولای سو، چي پر نفس باندي غلبه حاصله کړو، او پر نفس باندي غلبه حاصلول او هغه په قابوکي راوستل او الهي حکومت او قانون ته د هغه چمتو کول او برابرول په اسلام کي د انسان څخه یوه حتمي او ضروري غوښتنه ده.

حضرت شاه ولي الله رحمة الله علیه په خپل کتاب حجة البالغه کي لیکي:



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

روژه پر نفس باندي د غلبې لپاره روا سوې ده لکه الله تعالی چې فرمايلي دي: لعلکم تتقون! (ښايي چې تاسي پرهېزګاره سئ) او لکه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

فان الصوم له وجاء (يقيناً روژه د هغه چا لپاره چې جنسي غريزه او شهوت لري او د نکاح قوت نه لري د ناوړه شهوت له منځه وړونکې ده، يوه پوره او صحيحه روژه هغه ده، چې د ځيرونکو حيواناتو (ځناورو) د خويونو او شيطاني ناوړه شهواني اقوالو او افعالو څخه پکښې هم ځان وژغوري، ځکه چې دغسي افعال او اقوال نفس ته بد او ناوړه اخلاق او خويونه وريادوي او فاسدو کارونو ته يې راباسي. (حجة البالغه، ۱۲۵/۲ مخ)

علامه ابن الهمام رحمة الله عليه په فتح القدير کي په دې معنی ليکلي دي: الله تعالی روژه د ګڼ شمېر ګټو لپاره روا کړې ده، چې د هغې د ډېرو غټو ګټو څخه يوه دا ده چې پر بدو باندي امر کوونکی نفس آراموي او کنټرولوي يې.

۲. اقتصادي ګټې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

روژه د دې تر څنګ چي د الله تعالی يو ځانګړی عبادت دی. د روژه لرونکي لپاره اقتصادي ګټه هم لري روژه هغه ته د دې ښوونه کوي چي هغه بايد سپما وکړي او تل په مړه خېټه ونه ګرځي، هغه د دې پر ځای چي په څليرويشت ساعتونو کي درې او يا څلور ځلي خپل خېټي ته خواړه ور کښته کړي کولای سي يو ځل او يا دوه ځلي يې په متوسطه توګه مړه کړي، په دې شکل روژه لرونکی کولای سي د خپل څليرويشت ساعته د خوړو لګښت ۳۵% فيصده ته راکم کړي.

هغه سپمېدلي خواړه چي روژه يې د روژه لرونکي له خېټي څخه سپموي که روژه لرونکی د بېوزلي طبقې څخه وي کولای سي د هغه د معيشت معيار په دې وجه بهتر کړي چي د هغه د يوې ورځي د خوړو مصارف د روژې په برکت د درو ورځو لپاره کفايت کولای سي.

او که روژه لرونکی د شتمني طبقې څخه وي هم د روژې له برکته يې د سپما پروګرام د مساکينو او د هغه په څنګ کي د اوسېدونکو ګاونډيانو او بېوزلانو پر اقتصادي حالت مثبت اثرات پرېباسي هغه په دې شکل چي هغه خواړه چي هغه د خوراک څخه سپمېږي کولای سي د دې پر ځای چي خراب

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي پر نژدې ګاونډيانو مساکينو باندي وويشي، بل دا چي هغه مصارف چي د يوه سرمايه دار په ورځني خوراک باندي دوه يا درې ځلي لګول کېدل اوس د روژې په برکت يو ځل لګول کيږي، چي کولای سي د پېشلمي لپاره هم استفاده ورڅخه وکړي. دا سپمېدلي مصارف روژه لرونکی کولای سي د ټولني د لوېدلو افرادو د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره ولګوي، چي يا خو هغوی ته خوراکي مواد په واخلي او يا ورته د کار او روزګار ځيني مواقع برابر کړي او يا يې يو بل اجتماعي مشکل ورباندي ختم کړي.

۳. اجتماعي ګټې:

همدا راز روژه هر مسلمان ته د شتمنۍ قدر ور پېژني، د الله تعالی بې شماره نعمتونه چي د انسان د ېر لږ ورته پام کيږي خو روژه يې ورته متوجه کوي چي د همدغو نعمتونو شکر ادا کړي، روژه امير او فقير، پادشاه او ګدا او د ټولني ټول طبقات په مساوي شکل د يوه او بل په څنګ کي د روي، روژه مور انسان ته د لوږي تکليف ورپېژني او تږي مسلمان ته د اوبو اهميت ورپېژني، روژه سرمايه داران او بډايان پوهوي چي د ټولني لوېدلي طبقات چي د وسايلو د کمښت سره ټول ژوند لاس او ګرېوان وي څرنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوږي له هغه مشکل سره ټول ژوند ډغري وهي کوم چي هغه يې د يوې ورځي لپاره د تحمل تاب نه لري. ځکه خو الله تعالی د هغې د فرضيت اصلي او اساسي مقصد دا ښودلی دی چي مسلمانان د تقوا خاوندان جوړ سي.

۰۴ د روژې روغتيايي ګټې:

پرمختللي انساني طب دا ثابته کړې ده، چي روژه معده هوسا کوي او د هاضمې سيستم منظم او فعاله کوي او د روژه لرونکي بدن له اضافي وازګو او چربيو څخه خلاصوي خو دا هغه وخت چي روژه لرونکي د روژه مات آداب په پام کي ونيسي، يو څو خرماوي او اوبه په روژه مات وخوري او کوم خوراک چي کوي په هغه کي د اعتدال لاره غوره کړي.

په حديث کي راغلي دي:

عن ابي هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: صوموا تصحوا. (ابن السني والطبراني)

ترجمه:

د ابوهريره ﷺ څخه روايت دی، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: روژې



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونيسئ چي صحت او روغتيا ومومئ.

روژه نيول د هغه چا لپاره چي د خوږې (Sugar) په ناروغي اخته وي طلايي چانس دی، چي د روژه لرونکي شوګر ادنی درجې ته راکښته کړي، په دې اساس د پنکرياس غدې ته د ښې هوسايني وخت ورکوي، پنکرياس د بدن هغه برخي دي چي انسولين توليدوي نو کله چي خواړه تر توليد سوي انسولين زيات وخوړل سي د پنکرياس غده د ستومانۍ سره مخامخ کيږي، چي نه سي کولای خپله دنده سر ته ورسوي، ځکه خو قنديات په وينه کي يوځای کيږي او درجه يې لوړيږي په نتيجه کي يې د خوږې ناروغي منځته راځي.

همدا راز روژه نيول د انسان د زيات وزن په راکمولو کي هم مؤثره ثابتيږي ځکه په اوس وخت کي زيات وزن د ډيرو ناروغيو سرچينه ده خو په دې شرط چي د روژه مات او پيشلمي په خوراک کي د اعتدال لاره خپله سي.

روژه يوازينۍ هغه وسيله ده چي انساني جسم د زهر جنو موادو او له نقصاني او مؤذي ترسباتو څخه پاکولای سي، لکه چي يو امريکايي ډاکټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اډوارډبوای Edwar Boy وايي: هيڅ يوه داسي ناروغي او رنځ نسته، چي ځواک يې د روژې په وړاندي د مقاومت توان ولري.

شيخ الاطباء ابن سينا يوه ځانګړې طريقه درلودله، چي د ناروغيو په زياترو حالتونو کي به يې خپل ناروغ په دې مجبورولو چي درې هفتې روژه نيسي او بل دا چي روژه د مختلفو دخانياتو د استعمالوونکو لپاره ښه فرصت دی، چي خپل عمل لکه سګرېټ، نسوار، چرس او نور خطرناک مخدارت په آسانه توګه پرېږدي. همدا راز د روژې د روغتيايي ګټو په اړه ډېر کتابونه ليکل سوي او څېړل سوي دي چي مؤلفين يې مسلمانان او غير مسلمانان دي او لوستونکي کولای سي مطالعه يې کړي، دلته همدومره کفايت کوي.

يادونه:

د روژې نيول کومي ګټې چي عصري او طب ښودلي دي دا د اسلام د حقانيت ثبوت او د دې دين تلپاته معجزې دي، چي د هري ورځي په تېرېدلو سره يې نړيوالو ته حقانيت ښکاره کيږي خو موږ چي روژه نيسو هدف او

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخه به مو یوازي د الله تعالی د حکم تعمیل، د هغه بندګي او د رسول الله ﷺ د سنت مطابعت وي، نه دا چي د روغتیا یا د بدن د وزن د کمولو په نیت دا کار سرته رسوو، تر څو چي د اخروي اجر څخه محروم پاته نه سو، خو کوم څه چي موږ ذکر کړل دا د روژې اضافه دنیوي ګټې دي او د هغې د فرضیت ځیني الهي حکمتونه دي.

## د روژې رکن یا فرض

د نس او فرج د شهوتونو څخه لاسنیوی د روژې رکن دی. یا په بل عبارت د خوراک، چښاک او جماع نه کول په روژه کي فرض دي.

یعني هغه شیان چي رژه ماتوي د هغو څخه په کلکه ډډه کول فرض دي. په خوړلو او چښلو کي دا هم شامل دي چي معدې ته په یوه بله طریقه سره خواړه یا درمل ورسول سي او د ښځي سره په کوروالي کي هغه ټول صورتونه شامل دي چي په هغه سره انسان په اراده سره نفساني خواهش پوره کړي.



www.larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د روژې وخت

د صبح صادق څخه شروع او د ماښام د لمر لوېدو پورې ختمېږي.

# د روژې مستحبات او آداب

۱. د لمر لوېدلو سره سم تر لمانځه مخکې روژه ماتول (ځنډول یې مکروه او بې ځایه بزرګي ده، البته چې وریځ نه وي). (شرح التنویر و ردالمختار، ج ۱، ص ۱۸۳)

۲. په لندو یا وچو خورماګانو، او که هغه نه وي بیا په اوبو سره روژه ماتول، په مالګه سره ماتول صحیح دي خو ثواب نه لري. (بهشتي زېور د زیلعي، ص ۴۴۳، ج ۱ په حواله)

۳. په تاقو شیانو د روژې ماتول.

۴. د روژې ماتولو په وخت کې ماثوري دعاګاني ویل لکه (اللهم ان لک صمت و علی رزقک افطرت).



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. د پېشلمي په وخت کي د يو شي خوړل، که څه هم يو ګلاس اوبه يا شيدې وي.

٦. د پېشلمي ځنډول، خو دومره ناوخته نه چي روژه په شک کي کيږي. (بهشتي زيور د مراقي الفلاح على حاشيه الطحطاوي، ۳۹۷ مخ په حواله)

۷. د چټي او بدو خبرو څخه د ژبي ساتل، (د بې کاره او ناروا شيانو د ليدلو څخه د سترګو ساتل لکه پرديو ښځو ته کتل، فلم کتل او داسي نور حرام کارونه لکه غيبت، درواغ، چغلي او داسي نور...) نو دا ټول په هر حالت کي حرام دي، او ځان ساتل ورڅخه واجب دي او په رمضان المبارک کي وربانديي خاص ټينګار سوی دی.

۸. خپلوانو، غريبانو او اړو خلکو ته خيراتونه ورکول، په روغتونونو کي د مريضانو پوښتنه کول او د هغوی سره مالي کمک کول او تر خپله وسه د علم طلب کول، د ديني مدارسو سره مرسته کول، د قرآنکريم په تلاوت، په درود ويلو، په ذکر کولو او نورو عباداتو کي شپه او ورځ تېرول او اعتکاف کول. (کتاب الفقه، لومړی ټوک، ۹۳۷ مخ)

۹. په روژه کي د شطرنج په لوبه سره وخت تېرول د روژې ثواب له منځه وړي. (فتاوی دارالعلوم ديوبند، ٦ ټوک، ۳۴۰ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نیت:

په زړه کي د روژې نیولو قصد او اراده کول کفایت کوي، ځکه د نیت ځای زړه دی خو که په خوله نیت وکړي دا هم ښه خبره ده دا چي ووایي: اې الله زه به سبا روژه نیسم او د نیت عربي الفاظ دا دي: (بصوم غد نویت من شهر رمضان).

## مسئله:

په روژه کي تراویح کول مؤکد سنت دي، د نارینه او ښځینه دواړو لپاره او نه کول یې ګناه لري، خو دومره دي چي پر ښځو جماعت کول مؤکد سنت نه دي بلکي یوازي به یې کوي او حتماً به یې کوي. (کفایت المفتي، ۲ټوک، ۳۶۱ مخ. فتاوی دارالعلوم دیوبند، ۴ ټوک، ۲۵۵ مخ، د رد المختار ۱ ټوک، ٦٦ مخ په حواله)

هغه شیان چي روژه فاسدوي خو یوازي قضاء لازموي. په کومو شیانو چي روژه فاسدیږي هغه دوه ډوله دي:

(۱) یو هغه چي په هغه سره یوازي قضاء لازمیږي.

(۲) بل هغه چي په هغه سره کفاره او قضاء دواړه لازمیږي.

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه شيان چي په هغه سره يوازي قضاء لازميږي

۱. يو چا په زوره د روژاتي په خوله کي يوه څه واچول او هغه د ده د ستوني څخه تېر سول نو د دې روژې قضاء به راوړي.

۲. د يو چا روژه په ياد وي خو د خولې پرېمينځلو په وخت کي بې اختياره اوبه ځني تيري سي نو د دې روژې قضاء به راوړي. (شرح التنوير و رد المختار ۱۶۲ مخ، ۲ټوک)

۳. که چا په قصداً په ډکه خوله قی وواهه او يا يې په خوله کي لږ قی راغی او هغه يې تېر کړ نو د دې روژې قضاء به راوړي. (اسلامي فقه، ۲۵۵ مخ)

۴. که د چا په غاښو کي د ډوډۍ ټوټه يا د غوښې ريښه پاته وه او د سهار وروسته يې په لرګي يا بل شي د غاښو څخه جلا کړه او تېره يې کړه يا خپله تر ستوني تېره سوه نو که دا ټوټه د نخود د دانې څخه کوچنۍ وه پروا نه لري او که چيري د نخودد دانې په اندازه او يا تر هغه زياته وه نو بيا د دې روژې قضاء راوړل واجب دي. البته دا په هغه صورت کي چي دننه په خوله کي وي او تېر يې کړي خو



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیري یې د باندي راوایستی وروسته یې تېر کړي نو که دا شی تر نخود لوی او که کوچنی وي قضاء واجب ده. (بهشتي زېور، ج ۱، دریمه حصه د شرح التنویر، د دوهم ټوک د ۱۹۷ مخ په حواله)

۵. په غوږ کي تېل اچول، یعني په غوږ کي تېل اچول روژه ماتوي، نو قضاء یې واجب ده خو د اوبو ننوتل روژه نه ماتوي، ځکه هغه فایده نه لري. (اسلامي فقه، ۲۲۶ مخ، بهشتي زېور د شرح البدایه، لومړي ټوک ۲۰۲ مخ په حواله)

۶. په پزه یو شی کشول یا سونږ کول او هغه تر ستوني تېرېدل روژه ماتوي، البته خارجي شی یا دوا، نو د هغې روژې قضاء به راوړي خو هغه څه چي د پزي دننه وي لکه ګرنګ هغه روژه نه ماتوي. (بهشتي زېور)

۷. د غاښو څخه راوتلې وینه که چیري د لاړو (ناړو) څخه زیاته وي د هغې تېرېدل روژه فاسدوي او د هغې روژې قضاء واجب ده او که وینه د ناړو سره برابره وه هم روژه ماتوي نو د هغې قضاء باید راوړي. (فتاوی رحیمیه، ۳ ټوک، ۱۰۸ مخ، د عالمګیري په حواله)

۸. که یو چا په هېره سره یو څه وخوړل یا یې وڅښل که څه هم په هېره سره روژه نه ماتیږي خو د ده د ناپوهۍ په خاطر فکر وکړ چي روژه خو ماته سوه بیا یې خوراک او څښاک وکړ نو د همدغي روژې قضاء به راوړي. خو که چیري دا مسئله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورمعلومه وه او بیایې په هېره د خوراک کولو وروسته په قصد روژه ماته او جماع یې وکړه نو قضاء او کفاره دواړه وربانديلازمیږي. (بهشتي زېور د شرح التنویر د ۱۵۰ مخ په حواله)

۹. د صبح صادق وروسته یې دا خیال وکړ، چي اوس لا وخت پاته دی او بیا یې خوراک او څښاک وکړ نو د هغې روژې قضاء لازمه ده. (فتاوی دارالعلوم دیوبند، ٦ ټوک، ۴۲۲ مخ د ردالمختار ۲ ټوک ۱۵۸ مخ په حواله)

۱۰. د لمر پرېوتو څخه مخکې په دې خیال سره روژه ماتول، چي لمر پرېوتلی یا لوېدلی دی خو وروسته ور معلومه سوه چي لمر نه دی لوېدلی نو یوازې به د همدغې روژې قضاء راوړي. (فتاوی دارالعلوم دیوبند، ٦ ټوک، ۲۳٦ مخ د هدایة ۱ ټوک ۲۰۷ مخ په حواله)

سوال: د روژې په حال کې د مخ د غاښ یا د زامې د غاښ کښبل او یا په خوله کې دوا اچول روا دي که نه؟

جواب: د سخت ضرورت په خاطر د غاښ کښبل روا دي او بې ضرورته مکروه دي، که وینه یا دوا نس ته تېره سي او تر ناړو زیاته یا ورسره برابره وي او د هغو (د وینې او دوا) خوند په حلق کې معلوم سي نو بیا روژه وربانديماتیږي او یوازې قضاء واجب ده. (احسن الفتاوی، ٦ ټوک، ۴۲٦ مخ د ردالمختار ۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوک ۱۰۷ مخ په حواله)

سوال: که ناروغ روژه ونیسي او صحت او روغتیا ته یې د نقصان رسېدلو اندېښنه وي او د طبیب (ډاکټر) رایه دا وي، چې دی دي روژه هرو مرو وخوري نو آیا مریض روژه خوړلای سي که نه؟

جواب: داسي مریض ته د روژې د خوړلو شرعاً اجازه ده، د ناروغ غالب ګمان یا د مسلمان طبیب خبر ورکولو د دې شرعي رخصت لپاره کفایت کوي البته د صحت وروسته به یې قضاء راوړي. (فتاوی دارالعلوم، ٦ ټوک، ۳۳۱ مخ)

سوال: که یو څوک د روژې تر نیولو وروسته ناروغ سو او حالت یې خراب و، که څه هم د مرګ وېره نه وه او ډاکټر دوا د خوړلو لپاره ورکړه چي ته یې همدا اوس وخوره آیا دا کار جایز دی؟

جواب: که د روژې د نه ماتولو په صورت کي د ناروغۍ د ډېروالي وېره وه یا د مرګ خطر و، نو د روژې ماتول ورته جایز دي او بیا دي د دې روژې قضاء راوړي، او که په پیچکاري لګولو یې تداوي کېدله نو بیا د روژې ماتول روا نه دي. (احسن الفتاوی، ۴ ټوک، ۴۲۲ مخ)



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئله:

د روژې په میاشت کې که د چا روژه اتفاقاً ماته سوه لکه په پورتنیو ځینو صورتو کې نو د روژې د ماتېدو وروسته هم څه خوړل او چښل ښه نه دي، بلکي ټوله ورځ د روژه دار په شان تېرول واجب دي. (بهشتي زېور، د مراقی الفلاح علی حاشیه الطحطاوي د ۳۹۵ مخ په حواله)

## هغه شیان چې روژه ماتوي، قضاء او کفاره دواړه لازموي

۱. د رمضان په روژه کې په قصد سره خوراک او چښاک کول یا نس او معدې ته داسې شی داخلول چې انسانان د هغه د خوراک او دوا لپاره کاروي.

۲. د رمضان په روژه کې جماع (کوروالی) کول یا د بلې ښځې سره بدفعلي کول، لواطت کول د روژې قضاء او کفاره دواړه لازموي، که مني ووزي او که نه ووزي. کله چې د سړي د خاص اندام سر د ننه سو نو روژه ماته سوه، دا که د مخ د خوا وي او که د شا د خوا فرق نه لري او د قضاء او کفارې واجبېدل پر فاعل او مفعول دواړو ده. (در مختار، ا ټوک، ۱۵۱ مخ) (بهشتي زېور ۳ حصه، ۱۲ مخ، هدایه، ۱ ټوک، ۴۰۲ مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسئله:

که څوک د رمضان په روژه کي چلم، سګرېټ، چرس وڅکوي روژه يې ماته ده قضاء او کفاره دواړه ورباندي واجب ده. (بهشتي زېور، د شرح التنوير ۱ ټوک، ۱۴۹ مخ په حواله او فتاوى دارالعلوم ديوبند)

# کفاره:

کفاره داده چي اول خو يو غلام آزاد کړي که يې دا په وسه نه وه، ځکه اوس غلامان (مريان) هم نسته نو بيا دي پر له پسي شپيته روژې ونيسي او که يې دا هم د شرعي عذر له کبله په وس کي نه وه نو بيا دي شپيتو مسکينانو ته سهار او ماښام خواړه ورکړي. (فتاوى دارالعلوم ديوبند، ٦ ټوک، ۴۴٦ مخ، د ردالمختار ۲ ټوک، ۱۴۷ مخ په حواله)

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه شیان چي روژه نه ماتوي بلکي مکروه کوي يې

۱. د يوشي خوند کتل هغه وخت چي هغه تر معدې نه رسيږي خو که د يو شي دخوند کتلو ضرورت و، مثلاً د يوې ښځي مېړه (خاوند) سخت طبيعته و نو د هغې لپاره د ديګ خوند کتل د مکروه والي پرته روا دی د نانوای او اشپز حکم همدا دی.

۲. د خپلي مېرمني ښخه خوله (مچه اخستل).

۳. په خوله کي د راټولو سوو ناړو تېرول مکروه دي، ځکه چي د روژې ماتېدلو وېره ورسره سته.

۴. تر صبح صادق وروسته په جنابت کي پاته کېدل مکروه دي، ښه داده چي په شپه کي غسل وکړل سي. (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه، اتوک، ۹۲۳ مخ)

۵. رګ وهل، ناروغ ته خپله وينه ورکول هم مکروه دي.

۶. غيبت کول، درواغ ويل، جنګ جګړه کول، ښکنځل کول هر وخت حرام دي خو په روژه کي يې ګناه نوره هم زياتيږي او مکروه کار دی.

۷. په روژه کي د غاښو د پوډرو، دوا او سکرو کارول او په هغه سره د غاښو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېولل هم مکروه دي. (جواهر الفقه، ۱ټوک، ۳۷۹مخ)

۸. د مېرمني سره داسي مينه کول چي شهوت په حرکت راولي لکه د هغې ښکلول، لاس ورباندي تېرول او بار بار ورته کتل مکروه دي، او که د دغو څخه د جماع او انزال بېره وه، نو بيا دغسي کول حرام دي. (کتاب الفقه، ۱ ټوک، ۹۲۷ مخ)

۹. بې عذره د يو شي ژوول خو که مور ماشوم ته ډوډۍ ژوول غوښتل او بل څوک نه وه روا ده دي.

۱۰. هغه کار کول چي روژه دار ضعيف او کمزوری وي.

## هغه شيان چي نه روژه ماتوي او نه يې مکروه کوي

۱. د مسواک وهل.

۲. په سر يا برېتونو تېل لګول.

۳. په سترګو کي رانجه يا دوا اچول.

۴. خوشبويي شيان بويول لکه عطر او ګلان.

۵. د ګرمۍ يا تندي په خاطر غسل کول.



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. د ستني (پیچکارۍ) لګول. (جدید فقهي مسائل، فتاوی دارالعلوم دیوبند).

۷. په هېره سره خوراک او څښاک کول.

۸. په غیر اختیاري ډول حلق (ستوني) ته د لوګي، مچ، غوماشي او داسې نورو ننوتل. خو چلم، سګرېټ او چرسو دود کشول روژه ماتوي او کفاره هم لازموي.

۹. په غوږ کې په قصد یا خطا د اوبو داخلېدل.

۱۰. په خوب کې د شیطان تېر ایستل (احتلام).

۱۱. د غاښو څخه د ویني وتل خو په دې شرط چې نس ته ولاړې نه سي.

۱۲. په خوله او به ګرځول په پزه کې اوبه اچول که څه هم د اوداسه نه بغیر وي.

۱۳. پر بدن باندې د زیات لوند تو کر اچول او په هغه سره د بدن سړول، اپریشن کول چې روژه لرونکی پکښې کمزوری نه سي. (کتاب جواهر الفقه ۱ ټوک)

۱۴. د ارادې نه پرته قی وهل روژه نه ماتوي. هغه که لږ وي او که ډېر خو په قصد سره قی وهل روژه ماتوي البته په ډکه خوله سره. یعنې قی چې په ډکه خوله نه وي روژه نه ماتوي. (بهشتي زېور، ۳ حصه، ۱۲ مخ د فتاوی هندیه ۱ ټوک، ۲۰۲ مخ په حواله)

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه عذرونه چي له امله يې د روژې د نه نيولو اجازه ده

دا داسي مجبوری دي چي په رمضان المبارک کي د هغو په وجه اسلامي شريعت د روژې د نه نيولو اجازه ورکړې ده.

۱. لکه يو چا ته د ناروغی په خاطر د روژې نيولو قدرت نه وي، يا د مرض د زياتېدلو سخته وېره وي،نو روژه نيول اسلامي شريعت ورته روا کړې ده، خو د هغو روژو قضايي لازمه ده، ليکن فقط پخپل زړه کي د داسي خيال کولو څخه روژه پرېښوول صحيح نه ده بلکي هغه وخت چي يو ديندار او مسلمان طبيب (ډاکټر) ورته ووايي چي تا ته روژه ښه نه ده، نيول يې تاوان درته کوي نو بيا دي يې نه نيسي. (بهشتي زېور، ردالمختار و شرح التنوير ۱۸۵-۱۸۶ مخونه)

۲. د کومي مېرمني چي کوچنی په نس وي او د روژې نيولو په وجه هغې ته يا د هغې کوچني ته د تاوان رسېدو وېره وي نو روژه دي نه نيسي وروسته دې بيا قضا راوړي.

۳. که کومه مېرمن خپل يا پردي کوچني ته شيدې ورکوي، نو که هغه روژه ونيسي د کوچني لپاره شيدې ختميږي او کوچني ته تکليف رسيږي نو هغه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

روژه نه نیسي وروسته دې بیا قضاء راوړي. (اسلامي فقه، ۲۹۲ مخ، د روژې مسئلې، ۱۸۰ مخ، د محمد رفعت قاسمي لیکنه)

خو که د شیدو ورکوونکي مېرمني خاوند مالدار و او بله دایي يې مقررولای سوای چي دغه کوچني ته شیدې ورکړي نو بیا د دې لپاره روژه خوړل روا نه دي، لیکن که کوچني د بل چا شیدې نه رودلې نو بیا د دې لپاره خوړل روا دي. (بهشتي زېور د ردالمختار د ۲ ټوک د ۱۸۶ مخ په حواله)

**مسئله:**

که چیري کوچني وچي شیدې چېښلای سوای او تاوان يې هم نه ورته کاوه نو په دې صورت کي مور روژه نه سي خوړلای او د روژې نیول ورباندي فرض ده. (اسلامي فقه، ۲۳۰ مخ، د مجیب الله ندوي لیکنه)

۴. هغه شرعي مسافر چي لږ تر لږه د ۴۸ میلو او ۹۶ کیلو متره سفر په نیت له کوره وتلی وي د هغه لپاره د شریعت د لوري اجازه ده چي روژه ونه نیسي، خو که په سفر کي تکلیف او سختي نه وه، نو بیا ښه داده چي په سفر کي روژه ونیسي، ځکه الله تعالی ﷻ فرمایي: وان تصوموا خیر لکم (سورة بقره ٦ رکوع).

نو معلومه سوه چي په هغه سفر کي چي تکلیف نه وي د هغې روژې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولو فضیلت خپله الله تعالی ﷻ بیان کړی دی. (فتاوی دارالعلوم دیوبند، ٦ ټوک، ۴۷۲ مخ. د ردالمختار ۲ ټوک ١٦٠ مخ په حواله)

**مسئله:**

په هغه حالت کي چي مسافر په سفر کي و او د روژې نیولو اراده یې نه وه خو تر غرمې (زوال) یو ساعت مخکي کورته راورسېد نو پر هغه لازمه ده، چي روژه نیت کړي او ویې نیسي. (بهشتي زېور، د روژې مسائل محمدرفعت قاسمي)

**۵. د مېرمني لپاره په حیض او نفاس کي روژه نه نیول روا دي خو قضاء به یې راوړي.**

پورتني هغه شرعي عذرونه دي چي الله تعالی ﷻ د خپل لوی رحمت په خاطر خپلو بندګانو ته ورمعاف کړي دي، ځکه د اسلام دین ډېر پراخ او د اسانۍ دین دی نو د یو مسلمان لپاره هیڅکله دا نه ښایي چي د دغو عذرونو لپاره حیلې، پلمې او بهانې جوړې کړي. د ردالمختار ۲ ټوک، ۱۵۸ مخ کي لیکل سوي دي، چي: شرعي مسافر او شرعي ناروغ ته د روژې پرېښوول صحیح دي او حیله او پلمه کول مذموم او ډېر بد عمل دی. (د روژې مسائل ۱۴۹ مخ).



www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د روژې څخه د خلاصون په خاطر سفر کول یا ځان پر ناروغۍ اچول ډېر بد او خطرناک کار دی.

**مسئله:**

که یوه مېرمن د رمضان د روژې په ورځ پاکه سوه، نو تر ماښامه ورته د څه شي خوړل او چښل روا نه دي او تر روژه مات پوري د روژه لرونکي په څېر پاته کېدل ورته واجب دي. خو دغه ورځ يې په روژه کي نه حسابل کيږي بلکي د دې روژې قضاء به راوړي. (بهشتي زوېر، دوهمه حصه، **۱۶** مخ، د شرح وقایه **۳۱۶** مخ په حواله)

**مسئله:**

که د نيمايي ورځي وروسته د يوې مېرمني حيض پيل سو نو روژه ماته سوه، نو تر پاکۍ وروسته به د دغي روژې قضاء راوړي. (بهشتي زېور دوهمه برخه **۵۹** مخ، د جوهرة النيرة ۱ټوک **۳۲** مخ په حواله)

ګرانو مسلمانانو!

دغه کتاب مه محدودوئ يوازي يې د ځان سره مه ساتئ.

د هر سواد لرونکي مسلمان دا ديني مسئوليت دی، چي دغه مسائل نورو مسلمانانو او د کورغړو ته په ډېر دقت ولولي، تر څو په ثواب کي شريک سي.

ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم



www.Larawbar.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**